ناشر و نویسنده: پوهندوی آصف بهاند
تأریخ: ۲۰۱۴۰۸/۲۸

# د تـوتـکـی لـه وزرو

## (د نوزادي د شعر په بڼ کې)

دویمه برخه

شاعر د ژوند رنګارنګ بادونو او بدلونونو پسي اخيستی دی او دغو څپو د د نيا تر پايه پوري رارسولی دی او ځنګه چي کشمکش سره عادت دی، ځکه په توپاني څپو او شور کي ځانته کور لټوي. شاعرله زلميتوب او زړبودی نه شکايت کوي او د توتکی د وزرو وختونوته طلايي وختونه وايي:

زلـميتوب مـي کـاشکي نه وای
ماشومـــتوب مي هـميشه وای
نــه نـفـرت نه به کينه وای...

د نوزادي په ځينو شعرونو کي له ورايه ليدل کيږي چي کندهاری لهجه يي داسي کارولي ده چي که يي په بله لهجه باندي واړوي ،شعرکي يوه هجا کمه زياته راځي او د شعر وزن ورانيږي:

لکه و تور اوربل ته سره ګلونه
وينــه رګـو کي پـه نـڅا راځي

دلته که له لومړي نيم بيتي نه د «و» توری و ايستل شي، وزن خرابيږي او هسي جمله ورنه جوړيږي. دغه راز د «ساندي» تر سر ليك لاندي شعرکي هم کندهاری لهجه په همدې بڼه کارول شوې ده.
نوزادي کله کله د تيرو شاعرانو زاړه کارول شوي انځورونه سره نغاړي، مروړي يي او نوي ښکلي تصاوير ورنه جوړوي او له ځانګړي شاعرانه رندی سره ځان ته فتواوي صادروي چي نفلي روژې د شونډو په پتاسو نه ماتيږي. وګورئ:

ماښام آذان په بهانه مي ګوره مه خندوه　　　نفلي روژې په پتاسو د شونډو نه ماتيږي

دغه راز په «زوړ يار» نومي شعرکي ليدل کيږي چي زاړه تکراري مفاهيم په نويو ترکيبونو کي سره رانغاړي، په نوې بڼه يې خپلو لوستونکو ته مخ کي ږدي او داسي ښيي چي هم يي د ځوانی خزانه بايلودې ده او هم ملاترلي بوډاتوب ته ښه راغلاست وايي، خو تر څنګه يي ځان زين کړی آس ګڼي او خدمت ته آماده هم دی :

زوړيار
زه يـو شـعـر رژيـــــدلی
پـانـي پـانـــي بـادو وړی
ستا اوربل کي به راتول شم
لـــه شـاعـره تـښتيـدلی
د شپي پري نه داريـږم
يم د ورځي مار چيچلی
د ځـوانی په بيه راغلم
بوډاتوب ته مــلا ترلی
له دي خيري ګريوانه نه
د زړه چاك سررا ايستلی
اوس مي بند د زړه رګونه
وينه نـه شی تيـريـــدلای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

په تاويز يې تسل نه سته
مُلا څه بلا وهلی
د يو چا په دُعا پايم
نوم يې نه شم اخيستلای
ياران هم سته يادوي مې
ځکه ګرځمه سرلوړی
نوزادي هم يو زوړ ياردی
لکه آس چې وي زين کړی

نوزادي له آزاد شعر نه قافيه وال ته ډيره پاملرنه کړې ده. په قافيه يې زور اچولی دی او په شاعرانه مهارت سره د قافيې کچکول په غاړه د شعر له ملکې نه د انځورونو خيرغواړي، تر څو د خپلې تللې، بايللې ځوانۍ يادونه تازه کړي او پر خپلو ټپونو باندې د شعر نرم مرهم کېږدي او خپل بوډاتوب سره هم د همدې شعري انځورونو په زور او مرسته ګوتې ومروړي.
په دې ټولګه کې د قافيه وال شعر ښې نمونې ميندلای کېږي، خو د«ماهي ګيراو پاچا» کيسه يې اوج ګټلای شو اوسني پښتو شعر ته ادبپوهان رزمي ـ تغزلي شعر ويلای دی، او د نوزادي په دې ټولګه(بريتور آشنا) کې دواړو برخو ته پاملرنه شوې. د رزمي شعر ښه بيلګه يې «نمك حرام دوران» دی چې د افغان ملت د رزمونو، ميړانو او ناخوالو غوره نمونه يې په دوو ګوتو کاغذ کې راغوټه کړې ده:
نمک حرام دوران:

کوم رويبار به بيا د يار د کوڅې راشي
چې پيغام يې وچو شونډ و ته موسکا شي
کوم ميرويس به بيا ګرګين په وينوسور کړي
کومه مور به يو وار بيا نازو انا شي
څوك به بيا د پاني پت ناره تازه کړي
څوك به بيا پر پله روان د احمد شاه شي
د اکبر خنجر به کله بيا سور کېږي
بيا به کله د ايوب توره ترملا شي
د غازی ادې ټکری به څوك پر سرکړي
ملالۍ چيغه خوره به کله بيا شي
د پښتون شمله به جګه ګوره څوك کړي
ميراث خوربه خدايه څوك نن د شيرشاه شي
که خبر ورته د ورانو کليو يوسم
هره تيږه د خيبر به په ژړا شي
سره لښکر ته به څوك سره سترګه ښکاره کړي
چې تور خرس غونډې يې ځای، سائيبريا شي
کله اوښکې به شي وچې د بيبيانو
کله ټول به د ا ټغر د کربلا شي
څه دوران نمك حرام مو شو په برخه
چې بچې د مور پوړني ته بلا شي
نوزادی ! که ورور تر وروره ورسيږي
ماملې پټې به واړه برملا شي

د عيني ژوندانه د ستونزو ژوندۍ نمونې او په شعرکې د دې ستونزو انځورول د نوزادي د شعر بله عيني او حس کيدونکې ځانګړنه ده. په دې مجموعه کې تر ټولو ښه بيلګه د «دلته» تر سر ليك لاندې شعر دی. په دې شعرکې شاعر د ټولو هغو مهاجرو حال انځوروي چې د زدکړو او تجاربو له غني خزانو سره، سره دلته په هر پردي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چاپیریال(له هیواده د باندې) کې یا هیڅ بیه نه لري او یا په کم ارزی ورته لیدل کیږي، د چرتونو او تشویشونو په سمندر کې لاهو او د نیستی په لور روان دي:

زه پــه بـانــه کې بنده شـوې اوښــکه
نـه د لیمه ، نـه د ګـریوان شـوم دلته
لـکه بـې وخـتـه رژیـدلي غـوټـۍ
نه د کاکل، نه د بــاغـوان شـوم دلتــه
نه پرساحل بـانـدې مـې ومـونـد آرام
نــه د څـپـو نــه د تــوپان شــوم دلـــته
نه پر تندي د پیــغلو خـــال پریــوتـــم
نه پاس پرسرو شونډو پیزوان شوم دلته
زما د خیال لیلا، درخـــو پـــاتي شـــوه
نه خو مجنون نه آدم خــــان شوم دلتــه
ما د پردی غیرې خــوبـــونـــــه لـیدل
نــه د یــورپ نــه د افــغان شوم دلتــه
د غیرت چیغو مې بازار و نه مــونـــد
د نـوزادی پـه شان ارزان شــوم دلــتــه

د دویمې برخي پایمطلب


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ